بسم الله الرحمن الرحيم

سر یال نمبر: 319

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# خیبر (تیره)؛ خوارج ته بل لوی ګوزار

# د مهم مشر په ګډون 3 خوارج جهنم ته لیګدول شوي

خوارج د خیبر ضلعې په وادي تیراه (آدم خیل) کې د معمول ګزمې پر مهال په امنیتي ځواک د برید هڅه وکړه۔

**د امنیتي ځواکونو په وخت نشندهي او ځوابي کارروایۍ په ترڅ کې سخته ډزې وشوې، د ترهګرو تر ټولو مطلوب مشر کفایت عرف عدنان او ترهګر امجد عرف عبید وژل شوي او 5 ترهګر ژوبل شوي دي۔ د عملیاتو په جریان کې 1 تن ساتونکی ژوبل شو۔**








**وژل شوي ترهګر په باغ او شاوخوا سیمو کې پر امنیتي ځواکونو په ګڼو بریدونو، د پولیو پر ټیمونو بریدونو، هدفي وژنو او د تاوان لپاره تښتونو کې مطلوب وو، چې له دوی څخه وسلې او مهمات هم ترلاسه شوي دي۔**

د امنیتي ځواکونو اغیزمنو عملیاتو د خوارج ملا مات کړی او د پټیدو ځای یې نه دی موندلی، په داسې حال کې چې د امنیتي ځواکونو له خوا خوارج په لویه کچه په نښه کیږي۔

مورخه: ۲۶ ستمبر ۲۰۲۳ء

www.publicvoice.pk